ډاکټر لمر افغان ۲۰۱۲/۱۰/۲۱

# برېښنايي سيالي او د پښتو بدمرغي

پښتو يوه لرغونې ژبه ده، چې د پښتون ټبر يې په نړۍ کې استازيتوب کوي. د نړۍ پوهان د سانسېکرېټ، وېدا او اوستا په لاسوند دا څرګندوي، چې ګواکې د پښتو لرغونتوب تر پينځو زرو کلونو پورې رسېږي او د نننې نثر ژبه يې هم له ۱۰۰۰ کلونو زړه يادېږي. د تاريخ په رڼا کې پښتو ژبې هم ډېر پړاونه تېر کړي دي او مسلسله يې د غليم ځپېړې خوړلې دي. پښتو له آراميکو ژبو، سانسېکرېټ رانيولې تر خروشدي پورې ژبنيز توپيرونه او کولتوري يرغلونه تېر کړي دي. د مکدونيا له سکندر سره يې بيا د باکتري او يوناني ځرک هم په ټټر لګېدلی دی، چې د منځنۍ آسيا په بېلابېلو سېمو کې يې ارکيالوژيکې نښې په ډېرليکونو هم انځور شوي دي. د عربو له تختوتازونو، د ايران له يرغلونو او د اسلام مقدس دين له خورېدو سره يې په ليکتوريو کې عربي ليکبڼه هم خپله کړې ده، چې په يووېشتمه پېړۍ کې تر مورړ د عربي ليکوتوريو په بڼه کې يې د پښتو توريو جامه هم خپله کړې ده.

د ګڼې شمېر پوهانو څېړنو ښودلې ده، چې پښتو وخت نا وخته د سيمييز ښکېلاک، د ګاونډيو کلتوري تېريو او ځبرځواکونو د اړو دوړو په ګرداب کې لاهو شوې ده، چې نن سبا دغه ژبه له خپل څو زرن تاريخ سره بيا هم يوازې د شعر، فولکلوريکو کېسو او ټولنيزو تحليلونو ته ځانګړې شوې ده او د خبريالي تر کچې پاتې شوې ده، چې د پښتو دغه حالت، دغه لرغونې ژبه د ستونزو په يو دايروي دوران کې اچولې، چې پښتني ليکوال هم د دغه دايرې په څنډه خپل ليکنيز دوران پوره کوي او د ليکوالي خوبونه ويني، مګر په ړندو ړندو سترګو وينې، چې پښتو له دغه پړاوه د ساينتيفيک نړۍ ته نه ورننوځي.

د پښتو سره به ټول جفا کوي، مګر زړه بورنونکې دا ده، چې ولې پخپله پښتانه هم له خپلې ژبې سره جفا کوي. هېڅوک نه پوهېږي، چې افغاني ټولنه په څه ډول په دغه خړه کې نښتې ده، چې نشي ترې راوتلی او ليا په خړه کې ننوځي او ليا پکې نښتي. زما په ګومان دغه پوښتنه به يوازې هغه چا له ځانه کړې وي، چې پښتو لکه يوه ژوندۍ، متحوله او پرمختلونکې ژبه ګڼي او هر هغه ژبنيز څانګپوه چې دغه ژبې ته د خپلې پوهې، سليقې او وسې سره سم پوښ وراغوندي او خپلې ليکنې کوي او د افغاني ذهنيت شاليد هم په خپله سليقه سپړي، چې دغه لرغونې ژبې ته د نورو ژبو ترڅنګ يو منلی ځای ورکړي، نو د پورته خبرو په درشل کې غواړم خپلې اندېښنې له افغانانو سره د پښتو برېښنايي سيالي يا برقي تربګنې په اړه شريکې کړم.

ټولو ته جوته ده، چې افغانستان د وروستيو اساسي قوانينو په رڼا کې دوه ژبی مملکت دی، چې دوې يعنې پښتو او دری يې رسمي ژبې دي او ګڼشمېر ژبې د ښاغلي حامد کرزي په واکمنۍ کې سيمييزې رسمي ژبې هم ګڼل شوې دي، چې افغانستان يې له ژبنيز دوواليزمه د ژبنيز انارشيزم يا ژبنيزمولتيسينتريزم ته اړولی دی، چې نن سبا د هرې ژبې ويونکی د افغانستان په کچه د خپلې ژبې ملي شهکار غواړي، چې د مجاهدينو د ملکو طوايفي ته ورته يې د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتيا د وېشېدلو ګواښونه هم رامنځ ته کړي دي، مګر پښتو ليا نن د پښتنو په شتون کې د مملکت د دويمې ژبې پړاو ته راښکته شوې، مګر په نړۍ کې د پښتنو شمېر تر ۱۰۰ ميليونو اټکل شوی دی او په افغانستان کې جوت اکثريت (۶۳ سلنه) هم بيا پښتانه دي.

په نړۍ کې ډېر ملکونه دي، چې له ګڼشمېر ټبرونو جوړ شوي دي، چې زه به يې د بېلګې په توګه ځينې ياد کړم، چې ګڼشمېر ټبريز جوړښت لري. له آسيايي ملکونو به تېر شم، ځکه نن سبا د افغانانو لپاره د عربو امارات، روسيه او يا هم لوېديز ملکونه معيار ګرځېدلي دي، چې په دې ډله کې يې هم لويديز ته تمايل زياد دی، نو د لوېديز يو شمېر ملکونه به ياد کړم، چې د ګڼ شمېر ټبرونو په درلودلو سره څه ډول ملي دريځ لري.

بلژيک يو وړ اروپايي مملکت دی، چې بروسل د اروپا مرکز هم ګڼل کېږي، د دغه ملک په جوړښت کې درې ټبرونه يا ايتنيکي ډلې بنسټيز رول لري، لکه: هالنډيان، فرانسويان او جرمنان. په زړه پورې ده، چې دغه مملکت يوه موده فرانسوي ژبی وو، خو اوس يې دوې رسمي ژبې دي، لکه بلژيکي (هالنډي) او فرانسوي، مګر په دغه مملکت کې د يوې ملي ژبې دريځ څرګند دی، يعنې ملي ژبه يې هالنډي ده، چې د ملک ټوله اداره پرې سمبالېږي،


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

رسنيو کې اساسي ژبه ده او په ښوونځيو کې هم همدې ژبې ته ډېر پام دی، چې ولې د دغه واړه مملکت ملي ژبه هالنډي ده، ځکه د مملکت اکثريت خلک يې هالنډيان دي.

هالنډ هم د اروپا يو بل وړ مملکت دی، چې نړيواله محکمه هم په هالنډ کې ده. دغه مملکت ۱۸ ميليونه نفوس لري او دوې رسمي ژبې لري، چې يوه يې فريزي (فريزلندي) او بله يې هالنډي (نيدرلندي) ده، مګر په ټول مملکت کې هالنډي د دوايرو، ښوونځيو، رسنيو او ملت ژبه ده، ځکه هالنډيان د مملکت اکثريت تشکيلوي، نو دغه ملک هم يوه هالنډي ملي ژبه لري، چې ليکدود او ليکښه يې په بلژيک او هالنډ کې معياري دي او په يوه ښه ليکل کېږي، مګر په وينګ يا ګړدود کې يې سيمييز څرک آوړېدل کېږي، چې د ليکدود په ښه يې اغېز نه کوي، ځکه معياري ليکدود يې د ژبې زده کړه او ليکل آسانه کړي دي. په روسيه کې ۳۶ ټبرونه ژوند کوي، خو يوه روسي يې ملي ژبه ده، نو له نورو بېلګو به تېر شم، چې ليکنه اوږده نه شي.

افغانستان هم دوه ژبې دی، مګر مخکې له سرې غميزې پښتو په اساسي قانون کې د افغانستان ملي ژبه ياده شوې وه، چې د افغانستان په هر ګوټ کې تدريس کېدله او د يو واحد ملت د رامنځ ته کېدلو وړمه يې درلودله، مګر وروسته له سرې غميزې هر څه بدل شول او بل ډول شول، چې افغانستان هم د ټبرونو د ښکېلاک ډګر شو، چې هر چا د خپلې طايفې سيمه وغوښته او افغانستان دا دی د څو لسيزو په ترڅ کې د خپلمنځيو شخړو په بړبوکې کې ښکېل دی او د ژوندي پاتې کېدو ترېکې وهي.

را به شم دې ته، چې ولې ما دغه ليکنې ته «برېښنايي سيالي او د پښتو بدمرغي» نوم ټاکلی دی. له ننه درې لسيزې مخکې د ببرک کارمل په واکمنې کې د «درفش جوانان» په نامه يوه اونيزه خپرېدله، چې د دغه اونيزې د مسؤل مدير له خولې مې يوه موده ډېر زړه بورنونکې خبر واورېد. دهغه له څرګندونو سره سم، د دغه اونيزې تيراژ ۲۰۰۰۰ (شل زره) وو، چې ۱۵۰۰۰ يې په درې او ۵۰۰۰ يې په پښتو ول. د اخبار اساسي معلومات په درې ليکل کېدل او بيا وروسته پښتو ته ژباړل کېدل. د دغه اخبار له چاپېدو سره سم به د افغانستان ټولو سيمو ته لومړی د درې «درفش جوانان» وېشل کېدلو او بيا به وروسته له هغې د پښتو اخبار پښتنې سيمو ته استول کېدلو، چې پايله يې دا وه، چې په پښتو به معلومات زاړه ول، نو زاړه معلومات به يا چا په پښتو ببخي نه لوستل او يا به دا چې پښتو «درفش جوانان» د تبنګونو پېټی شول، چې پښتو درفش به بيا د سيمو د شورنخود فروشانو د پوړی وياړ وشو.

له پښتو سره د پرديو ترېګنې څو زرن تاريخ لري، مګر پښتانه هم خپلې ژبې ته په يو ځانګړي مورچل کې ناست دي، چې څوک يې په سيمييز ګړدود کې مُدغموي او څوک يې په سياسي لوبو کې ښکېلوي، چې پايله يې د افغاني ټولنې سياسي بې سېکتيا او د پښتنې ټولنې کلتوري بې تابيا ده، چې نه شي کولی د خپلې ژبې په اړه پوهنيزې پرېکړې وکړي، مګر د خپلو سيمو د ګړدود په شالېد کې د پښتو ډېوه نيمه بله وساتي، چې پايله يې په هېواد کې د پښتو ننني ټولنيزحالت، سياسي موقف او پوهنيز ترينګړی ځای دی.

تر ننه د پښتو ژبې خپاره شوي کتابونه هم له څو سوو نه اوړي، چې له ټولنپوهنې يې لمنه اخوا نه خورېږي، مګر وروسته له ۲۰۰۵ کاله پښتو د اېنټرنېټ جال ته هم ورننوته، چې د کمپيوټري تخنيک دغه تکنالوژي پښتو له نويو ننګونو سره مخامخ کړه. يو شمېر پښتنې ليکوال د يوې او يا بلې پېښې او يا موضوع په اړه ښکر په ښکر شول، نور بيا سياسي ښکېلاک ته په دوو دوو شول، خوبرېښنايي پاڼې هم بې تفاوته پاتې نه شوې او د برېښنايي سيالي ډګر ته يې ورودانګل، چې يو شمېر برېښنايي پاڼو هم د يو او بل جُل او پوستک له اوبو راوايست، د يو او بل پاڼې يې سره يا هک او يا بندې کړې او د برېښنايي تور لګولو شال يې په برېښنايي پښتو



وروا چولو، ښه ويل شوي، چې ماشوم ته
لوښی په لاس ورکړې نو له خاورو يې ډکوي!
په برښنا پاڼو کې مې د يو ليکوال ليکنه «پښتو ويبپاڼې، د افغانستان اشغال او د پښتنو ټولوژنه» ولوستله، چې يوې برېښناپاڼې ته د ليکنو استولو انديښنه او د مستعار نومو ليکوالو ننګه هم پکې ياده شوې ده. دغه ټکيو زه دې ته ولمسولم، چې خپلې انديښنې د برېښنايي پاڼو په اړه څرګندې کړم. زه د «ډاکټر لمر» په نامه برېښناپاڼو ته ليکنې استوم، چې ډېر دوستان ورته د مستعار په نامه ګوري او يو شمېر د ما په نامه ورته سوچ کوي او نور به


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ځان ته د لمر د وړانګو انځورونه جوړوي، چې په دې برخه کې ګڼ شمېر پاڼو ماته په نېغه یا کږه خپله اندېښنه هم یاده کړې ده، چې ځان دوی ته وروپېژنم، چې یو شمېر ته ما ویلي هم دي، چې زه (لمر) څوک یم، مګر بیا هم دغه د تیارو تربګنیو وربځ مخې ته راشي او زما مخه هم ډپ کړي.

ما یوه موده د یو شمېر ټولنیزو پېښو او ژبنیز تاوتریخوالي په بحث کې د لیکنو په توګه ګډون وکړ، چې لـه یو شمېر نـامعلومو افغانـانو مې د برېښناپتې پـه تـوګې سپکې سپورې هم ترلاسـه کړې او ځینـو معلومالحالـه اشخاصـو راتـه د سپاربښت ترخنګ نصیحتونه هم وکړل، چې یعنې خوله پټه کړه! د چا چې د قلم واک ورسپېدلو نو زما ځواب یې لـه خپل نظر یا سلیقې سره سم په برېښناپاڼو کې ولیکلو، چې هرومرو یې ما هم ځواب ورتـه لیکلـی دی، مګر یوې او یا بلې برېښناپاڼې د سیمییزو تربګنیو یا سیاسي ننګونو پـه ترڅ کې زما یو شمېر لیکنـې خپرې هم نـه کړې، چې ننـۍ لیکنه هم د بندېدو لـه ګواښ سره مخامخ ده، ځکـه دغه لیکنـه خو بیا د برېښنایي پاڼو د برېښنایي سیالي او یا برقي تربګنۍ په اړه ده، چې خپره به شي او که نه، زه هم نه پوهېږم.

یو چینایي فیلسوف چې کانفوسیوس نومېږي، پخپلو څرګندونو کې وایي، چې پـه بحث کې یوه موضـوع د جګړې تر پولې وشاربی، ځکه د قهر او غضب په ترڅ کې له بحث نه هغه څه راوځي، چې په عادي حالت کې یې څوک د ویلو جرئت نه کوي!، ځکه نو مـا هـم د بحث دغـه روحیـه پـه خپلـو لیکنـو کـې جوتـه کړې ده او پـه دې آند یم، چې د یوې موضوع ټول اړخونه باید وسپړل شي او وارزول شي، چې د پوهنیزو ټاکنو پر بنسټ بیا پرېکړه وشي، نو د ننني بحث لپاره مـا د یو شمېر برېښناپاڼو او اشخاصـو د لیکلي غبرګون برخې رااخیستې، چې لوستونکي یې ولـولي، د موضوع په اړه د بحث د ګډون زمینه ورته برابره شي او خپله پرېکړه وکړي.

یوه برېښناپاڼه راته لیکي: ... برېښناپاڼه ...، ستاسو لیکنه مخکې ځل هم ... (برېښناپاڼې) ته رسېدلې وه، له خپرېدو ځکه پاتـه سوه، لړ پاته ده چې ژبه او پر ژبې بحثونه زموږ بېچاره او مظلوم ولس داسې ټوټې ټوټې کړي لکه ډیورنډ کرښې چې سلو شل کاله مخکې ټوټې کړی وو، .... په دې برخه کې یوازې د باصلاحیته استادانو علمي دلایل د هغوی په اصلي نومونو د مسولیت له مخې خپروي، نه د دې موضوع د مینه والو نظریات هغه هم په مستعارو نومونو. هیلـه ده اوس د خپلې لیکنې د نـه خپراوي لامل درته روښانه سوي وي، ... (برېښناپاڼه) تاسو ته بلنه درکوي چې دخپل ولس او ژبې سره مینه له بهرنیو ژبو څخه دخپل مسلک په ډګر په علمي ژباړو سره توده وساتی.

یو چا بیا راته لیکلي دي: ... زه داخبره په مسؤلیت سره تاسو ته کوم چې ددې بحث سپړل هغه شاني چې تاسو پسې را اخیستي ده، دا و پښتو او پښتنو ته خیانت دئ. تاسو چي دې خیانت ته په ویاړسره لستوڼي را نغښتي دي، نو په پای کي به شرم او بې ننګي درته پاتي سي...

بله بریښناپاڼه بیا راته لیکي: وبخښه لمر صاحب (برېښناپاڼه).... یوازي هغه لیکنې خپروي چې یوازي د ... (برېښناپاڼې) لپاره لیکوال کړې وي، یوه خبره خو دا شوه او بله هم دا احترامانه هیله ده چې هر مرداری پر پښتنو تـاوان نشـي، پـه پاکستاني طالبـانو کې ډېر یې پنجابیان هم دي، خو زموږ لیکوال بس هڅه کويچې هر مرداری پر پښتنو وروارړوي...

... برېښنا پاڼه ... بله خبره دلیکنو ده ،موږ ځانګړي لیکوالان یوازي یو څو کسه لرو، خو دهر لیکوال لیکنـه خپروو چې یوازي موږ ته یې لیکلې وي ، موږ غواړو ... (برېښناپاڼه) له نورو وېبپاڼو بېله وي . تاسو که ... (برېښناپاڼه) ګورئ نو موږ پوره هڅه کړې ده چې داسې شیان خپاره کړو چې یوازي زموږ وي، ستاسو نه مو هم خواست دادی چې تاسو په هفته، میاشت حتا کال کې یوه لیکنه موږ ته راکړئ خو هغه بلې رسنۍ ته مه ورکوئ البته یوازې هغه لیکنه بلې رسنۍ ته مه ورکوئ، که بیا د نورو ورځپاڼو او رسنیو خوښه وه د... برېښناپاڼې ذاتً کـام پـه مننـه دي وچلوي... مخکـې لـه پرېکړې دغه څو سرې کرښې په ځیرتیا ولولي او بیا پرېکړه وکړی. ما کلـه کومـه ګډه وډه دری لیکنـه هم کړې وه، مګر د دری ژبې یوه برېښناپاڼه بیا راتـه دا ډول غبرګون ښیي: جناب داکتر صاحب گرامی سلام، مطلب ارسالی شما بروز دوشنبه به نشر میرسد، شادوموفق باشید.

افغانستان هغه مملکت دی، چې لـه بده مرغـه د سیاسـي، ایدیولوژیکي او مذهبي کړیو د زورآزموینو ډګر ګرځېدلی دی، چې د هر اړخ وسه ورسپېږي، نو خپل دوښمن په ټولنیز، رواني او فیزیکي بڼـه لـه منځـه وړي، چې د یو شخص نه نوم، نه نشان، نه حیثیت او نه هم کورنۍ ته ګوري، چې خوله یې خلاصه کړه، نو د شخص ترڅنګ هم کور او هم کلي ډوبوي، نو د برېښناپاڼو دغه پټه سیالي او بربنډه تربګنۍ هم لکه د اور سکروټه ده، کـه پـه لاس کې یې نیسـي نـو لاس دې پرې سوځي او که غورځوې یې کور دې سوځي!

نن سبا یو شمېر لیکوال په افغانستان کې پټ رازونه او تور مخونه بربنډوي، ځکه نو له خپل ژوند سره لوبې کوي او هغه مستعار لیکوال چې په بهر کې دي، نو د کورنۍ غړي یې په افغانستان کې د سیمې د نـا خوالـو ګروګان دي، چې د نامه له افشا کېدو سره یې هم بهرنیان ځپي او هم یې طالبان رټي! له بده مرغه دشمال ټلواله او د مشرقي شورا هم


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

تر خپلې وسې د ملي مبارزينو ستړه وباسي او د هېڅ ليکوال ننګه څوک نه کوي، چې د پښتو له متل سره سم د يو شمېر ليکوالو يو پلو ته ډانګ دی او بل پلو ته يې پړانګ دی! مګر يو ليکوال يوازې د قلم په وينه خپله ټولنيزه مينه ښيي، د خلکو ټولنيز غم په زغردو کرښو څرګندوي، چې لکه يو شمېر په خېل- او زيو کې هم ځان نه ښکېلوي، خو ناڅاپه د برېښنايي سيالي يا تربګني له مورچله هم د خنجر وارونه پرې راشي !

پايله

د افغانستان په پيښليک کې ډېرو ليکوالو په مستعار نومونو ليکنې کړې دي، چې حتی وروسته د هغوی له مرګه هم چا ته ليا څرګنده نه ده، چې په دغه يا هغه نامه چا ليکنې کړې دي. زموږ په معاصر تاريخ کې د پښتو ژبې يو ستوري، علامه او د پوهې څلي د «پروېز» په نامه خپل وطني شعرونه او ملي ليکنې د کمونيستانو او نورو بلاوبترو په اړه په يو شمېر اخبارونو کې خپرولې، چې کېدی شي ډېر کم خلک په دې پوه يا خبر وي، چې د «پروېز» هڅې ملي ارزښت دی، ځکه نو د ليکوالو په اصلو نصب پسې مه ګرځئ او د ليکنو د خپرولو سلسله په رسنيو پورې اړه لري، چې خپروي يې او که پښتو د سيالي کندې ته وراچوی او تجريدوي يې!


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ